مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخړ

۲۰۲۴/۰۸/۰۷

# د یهودو عادلانه جګړې

## (نهه څلوېښتمه برخه)



د اسراییلو د صهیونستي دولتي ترهګر رژیم لخوا، د حماس د سیاسي څانګې مشر اسمعیل هنیه او د هغه د شهدې کورنی انځورونه

### د اسراییلو شړل او د اسراییلو خدای یهوه پښېماني

کله چې د اسراییلو خدای یهوه خپل قوم ته د بابل د امپراتور بختنصر په لاس سزا ورکړه او خپل کور یې هم پرې وران کړ نو په لومړیو کې یهوه خدای همداسې پر اسراییلو په قهر ؤ او په ټینګه یې اسراییلو ته ویلي وو چې بیا به د فلسطین ځمکه ورنه کړای شي، د اسراییلو خدای د دا ډول د قهر او کلک هوډ یوه بېلګه د حزقیال نبي له کتابه را اخلو چې وایي: زموږ د تبعید په دوولسم کال[1] یو تن چې د اورشلیم له ښاره بابل ته راتښتیدلی ؤ، ما ته راغی ویې ویل چې اورشلیم دښمن ته په لاس ورغلی دی. حزقیال وايي چې هغه خواره واره اسراییل چې په ویجاړو ښارونو کې اوسیږي په دې فکر کې دي چې بیا به له بابلیانو خپل هېواد آزاد کړي، هغوی وايي چې ابراهیم په یوازې ځان ټول هېواد نیولی ؤ،[2] زموږ شمېر چې ډېر دی، په اسانۍ سره کولی شو، خپل هېواد بیا ونیسو.

---

[1]: د بابل پاچا بختنصر د پاچاهۍ په اتم کال حزقیال نبي د یهودا له پاچا یهویاکین سره یو ځای اسیر او بابل ته تبعید شو.

[2]: دا دې یهودو تشې افساني دي، د اسراییلو په سرچینو کې داسې خبر نه دی راغلی چې ابراهیم په یوازې ځان کومه ځمکه نیولې وي، یوازې د خپل وراره لوط ژغورلو په موخه یې له خپلو (۳۱۸) تنو په ملتیا جګړه کړې ده. (د پیدایښت کتاب:۱۱/۱۴)



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځير و لولئ

حزقیال د یهوه خدای له قوله په ډېر قهر او ښکنځلو سره اسراییلو ته وایي چي «تاسي وینۍ، غوښي یوځای خورئ، بتان لمانځئ، انسانان وژنئ، **تاسو فکر کوئ چي بیا به زه اجازه درکړم چي د دغه هیواد څښتنان شئ؟ ای قاتلانو، ای بتپرستانو، ای زناکارانو! تاسي د دغه هیواد ورتیا لرئ چي تاسي یي بیا څښتنان شئ؟** په خپل ژوند مي دي قسم وي، هغوی چي په ویجاړشویو ښارونو کي اوسیږي، په توره به ووژل شي، هغه چي په دښتو کي اوسیږي د داړونکو ځناورو خوراک به شي، هغوی چي په کلاګانو او سوړو کي دي په ناروغیو به ومري.» (د حزقیال کتاب:/۲۵تر۲۸پوری)

څو کاله وروسته د یهوه خدای نه بدلیدونکی دریځ بدل شو، په خپلو تېرو کړنو پښېمان او له دغه بتپرست، زناکار، قاتل او شړل شوي قوم اسراییلو یي بیا ملاتړ پیل کړ او د بابل له پاچا بختنصر څخه د خپل قوم او د خپل کور د ورانولو د غچ اخیستلو خبر ورکړ، (په داسي حال کي چي یهوه خدای د بابل پاچا هڅولی او د هغه په لاس یي خپل کور او د اورشلیم ښار وران کړي وو.)
هغه مهال چي په بابل کي پر شړل شویو یهودانو باندي خلکو ډول، ډول ملنډي وهلي او دا پېغور یي هم ورکاوه چي (وګورئ دا د یهوه خدای قوم دی چي له خپل هیواده شړل شوی دی!) هغه وو چي د اسراییلو خدای پر خپل نوم شرمیږي وایي چي زما د نوم سپکاوی کیږي بایده دي چي اسراییل خپل هیواد ته ستانه شي:«**دوی مي نورو هیوادونو ته شړلي او په دي توګه د دوی د بد چلند له امله مي مجازات کړي دي.** خو کله چي دوی په نورو هیوادونو کي خواره واره شول، زما د سپیڅلي نوم د بې‌احترامی سبب وګرځېدل، ځکه چي نور قومونه د دوی په هکله وایي: **دا د یهوه خدای قوم دی چي له خپل هیواده شړل شوی دی.** زه د خپل سپیڅلي نوم په فکر کي یم چي تاسو زما نوم د نورو قومونو په منځ کي سپک کړی دی.
[ای حزقیاله!] د اسراییلو قوم ته ووایه چي **زه یهوه یم. زه دا وایم چي تاسو به بیا خپل هیواد ته ستانه کړم** خو دا کار زه ستاسو لپاره نه کوم، د خپل سپیڅلي نوم لپاره یي ترسره کوم چي تاسو زما نوم د قومونو په منځ کي سپک کړی دی. زه به د خپل نوم لویي (چي تاسو د نورو قومونو په منځ کي سپکه کړي ده) ستاسو په منځ کي به یي ځرګنده کړم، هغه مهال به د نړی وګړي پوه شي چي زه یهوه خدای یم.
**زه به تاسو له نورو هیوادونو راټول او خپل هیواد ته به مو واستوم،** هغه مهال به پر تاسو پاکي اوبه واوروم چي له بتپرستیو او ټولو ګناهونو پاک شئ. تاسو ته به نوی زړه درکړم او ستاسو په دننه کي به نوی روح ځای‌پرځای کړم، له تاسو به دغه نه‌منونکی او د تیږي په څېر زړه واخلم، نرم او منونکی زړه به درکړم. په تاسو کي به خپل روح ځای‌پرځای کړم چي زما احکام او قوانین پلي کړئ.»
(حزقیال: ۱۹/۳۶تر۲۷پوری)

د اسراییلو خدای یهوه خپل غوره کړي قوم ته د سزا ورکولو له امله خواشیني شوی وایي چي خپل عزیزان مي د دښمن په منګولو کي ورکړي او خپل محبوب هیواد مي وران کړی دی، وایي چي د هیواد له هر ګوټه د خپل قوم ناري اوري.
ارمیا نبي، *(د خپل قوم لپاره، د یهوه خدای ژوره خواشیني)* تر سرلیک لاندي د یهوه خدای لخوا وایي:«**ما بني اسراییل پرېښي دي او خپل غوره کړی قوم مي شړلی دی، خپل عزیزان مي دښمن ته تسلیم کړي دي.** زما قوم د ځنګل د زمري غوندي پر ما غرمبیدلی دی، نو زه هم له دوی بېزاره شوم.
زما قوم د رنګین مرغه په څېر دی چي له هري خوا د وحشي مرغانو تر برید لاندي راغلی دی، داړونکي ځناور یي هم رابللي چي په دغه میلمستیا کي ګډون وکړي.
ډېرو پردیو حاکمانو د انګورو وني لوټ کړي او زما محبوب هیواد یي ځپلی دی، هغو زما ځربه ځمکه په وچه دښته بدله کړي ده. هو، هغه یي ورانه کړي چي له هغي څخه د وير ناري سوری اورم، هر ځای ویجاړ شوی او څوک پام نه ورته کوي، یرغلګر د هیواد هر ځای لوټوي **ځکه چي ما جګړه او توره ورلېږلي** چي یو، یو کس ووژني او هېڅوک په امن کي پاتي نه شي... زما د سخت قهر له امله یي محصولات له منځه تللي چي له کبله یي ټول شرمیدلي دي.» (د ارمیا کتاب:۱۲/۷تر۱۳پوری)

د اسراییلو قومي خدای یهوه چي خپل قوم یي له یهودا شړلی او له سختو سزاګانو سره یي مخ کړی و، بیا هم د اسراییلو خدای له خپل نازولي قوم څخه نه تېریږي، هغه خپل زوی بولی، وایي چي د اسراییلو لپاره یي زړه خوځیږي:«د خپل قوم سوري ناري مي اوریدلي دي چي وایی: ما ته دي سخته سزا راکړه او زه اصلاح شوی یم، زه د خوسکي په شان وم (چي په یوي‌کولو نه پوهیږي) خو اوس ما د خپل ځان پر لور درستون کړه... .
[یهوه د خپل قوم په ځواب کي وایي]: **ای اسراییلو زما قومه! ته اوس هم زما ګران زوی یي، ارینه وه چي تا ته سزا درکړم خو پوه شه چي پر تا به رحم وکړم ځکه چي اوس هم راته ګران یي او زما زړه درته خوځیږي،** نو کله چي تعبید ته ځئ لاره په نښه کړئ چي په هماغه لار بیا ځلي د هیواد خپلو ښارونو ته راوګرځئ، ای اسراییلو، ای بېوفا


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولئ

قومه، تر څو پورې غوارې په لالهاندې کې پاتې شې؟ دا دی ستاسو په منځ کې معجزه کوم، داسې چې تاسو زما غوښتونکي شئ.» (ارمیا:۳۱/۱۸تر۲۲پورې)

په بابل کې تبعید شوی اسراییلو له ارمیا نبي څخه غوښتنه وکړه چې له یهوه خدای پوښتنه وکړي چې دوی څه وکړي؟ هغه وو چې ارمیا نبي یهوه خدای ته دعا وکړه او لس ورځې وروسته یهوه ارمیا ته ځواب ورکړ چې «د [بابل] په هېواد کې پاتې شئ، که پاتې شئ نو تاسو به پیاوړي او تلپاتې شئ، نور به تاسو خواره واره نه کړم، **کومه بلا چې ما ستاسو پر سر راوستلې ده له امله یې ډېر غمجن شوی یم، نور د بابل له پاچاهانو مه وېرېږئ، زه ستاسو سره مل یم چې تاسو وژغورم او د هغه له منګولو مو خوشې کړم،** زه به د خپل رحمت له مخې داسې کار وکړم چې هغه پر تاسو مهرباني وکړي او اجازه درکړي چې خپل هېواد کې پاتې شئ.» (ارمیا:۴۲/۱۰تر۱۲پورې)

یهوه خدای خپل شړل شوي قوم ته امر کوي چې له بابل څخه وتښتئ او یهودا ته ځانونه ورسوئ، یهوه خدای نه یواځې شړل شوي اسراییل اورشلیم ته وربولي، په خپله هم اورشلم ته درومي او خپل کور بیا رغوي، یهوه وایي چې هلته به له خپل قوم سره تر ابده پورې اوسېږي:«ای هغو کسانو چې په بابل کې په تبعید کې اوسېږئ وتښتئ. ما تاسو هرې خوا ته خوارهواره کړي یئ خو زه به تاسو بیا ځلې راولم نو اوس وتښتئ او اورشلیم ته ستانه شئ.
... ای د اورشلیم ښاره، سندرې ووایه او خوشالي وکړه چې یهوه خدای وایي: **راځم چې ستاسو په منځ کې استوګن شم.»**
زکریا نبي زیاتوي چې «هغه مهال به ډېر قومونه په خدای ایمان راوړي او هغوی به هم د هغه قوم شي او یهوه خدای به ستاسو په منځ کې اوستوګن شي، هغه مهال به پوه شئ چې زه لوی او ځواکمن خدای یهوه تاسو ته رالېږلی یم. په سپېڅلې ځمکه کې به د یهودا [سیمه] د یهوه خدای میراث وي **ځکه چې یهوه خدای بیا ځلې اورشلیم غوره کوي چې هغې ته برکت ورکړي.**
ای انسانانو، د یهوه خدای پر وړاندې چُپ پاتې شئ ځکه چې هغه له خپل سپېڅلي ځایه پورته شوی دی ځمکې ته رادرومي.» (د زکریا کتابګوټی:۶/۱تر۱۳پورې)

ذکریا نبي هم د اسراییلو په منځ کې په جلاوطنۍ کې اوسیده، ذکریا چې روان حالات یې په ښه توګه سنجولی شول او راتلونکي حالات د اسراییلو په ګټه ښکاریدل، نوموړی د یهوه خدای له خوا وایي چې«د هغو [ناخوالو] له امله چې دښمنانو پر اورشلیم راوستلي دي، زه ډېر په قهر یم، ځکه چې اورشلیم راته ګران دی، اوسمهال **د اورشلیم ځمکې ته بیا ورځم او هلته ځای‌پرځای کېږم، اورشلیم به (امین ښار) او د خدای غر به د (سپېڅلي غره) په نوم ونومول شي.»**
(ذکریا:۸/۲-۳)

حزقیال نبي چې د یهوه خدای لخوا د خوب په حالت کې په اورشلیم کې د یهوه معبد ته وړل شوی ؤ وایي چې یهوه خدای راته وویل:«ای خاورینه انسانه! دغه ځای [معبد] زما د سلطنت تخت او زما د ارامۍ ځای دی، **په دغه ځای کې به تر ابده د خپل قوم په منځ کې استوګن شم،** دوی او د دوی پاچاهان به بیا ځلې د خدایانو او د سلاطینو د یاد ساتلو ځلیو پر لمانځلو زما سپېڅلی نوم سپک نه کړي.» (حزقیال:۴۳/۷)

د اسراییلو نبي حزقیال د یهوه خدای له لوري وړاندوینه کوي وایي چې یهوه خدای بیا ځلې اورشلیم ته ستنیږي او خپل وران شوی کور بیا جوړوي:**«... او زه به خپل سپېڅلی کور د تل لپاره د دوی په منځ کې [ودان] کړم، زما کور به د دوی [اسراییلو] په منځ کې وي، زه به د دوی خدای وم او هغوی به زما قوم وي، کله چې زه خپل سپېڅلی کور د دوی په منځ کې ځای‌پرځای [جوړ] کړم،** هغه مهال به ټول قومونه پوه شي چې زه یهوه خدای یم او د اسراییلو قوم مې د ځان لپاره غوره کړی دی.» (حزقیال:۳۷/۲۶تر۲۸پورې)

وړاندې هم یادونه شوي ده چې د اسراییلو خدای د بې‌حافظې انسان په څېر هېروي چې اسراییلو ته یې په‌خپله د بابل پاچا په لاس سزاګانې ورکړې او خپل کور یې هم پرې وسوځاوه خو اوس وایي چې د بابل پاچا او د هغه له هېواده به غچ اخلي، یهوه خپل قوم له مېږو او د بابل سرتیري له زمریانو سره پرتله کوي وایي:«د اسراییلو قوم د پسونو (مېږو) په څېر دی، لکه [د مېږو رمه چې] د زمریانو تر برید لاندې راغلی وي، لومړی ځل د آشور پاچا څیرې کړې، بیا د بابل پاچا نبوکدنصر د دوی هډوکي مات کړل، نو زه د اسراییلو لوی او ځواکمن خدای یهوه د بابل پاچا او د هغه هېواد ته سزا ورکوم، (لکه څرنګه مې چې د آشور پاچا ته سزا ورکړه)... زما قوم به روغ پاتې شي، دوی به خپلې ځمکې ته


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

ستانه شي، **خبر به ورکړي چي زه څه ډول له هغو کسانو غچ اخلم چي زما کور يي ويجاړ کړی دی.»** (ارميا:۵۰/۱۷-۱۸-۲۸)

د اسراييلو خدای يهوه وايي چي «کله يهودا او اورشليم ته بيا نېکمرغي او هوساينه ورکړم، د نړۍ سرتيري به د قضاوت په دره کي راټول کړم او هلته به يي **د خپل ميراث اسراييلو په خاطر محاکمه کړم** ځکه چي زما قوم يي د قومونو په منځ کي پاشلی او زما هېواد يي وېشلی دی، هغوی زما د قوم پر وګړو قمار وهلی دی، ځوانان، نجوني او هلکان يي د فاحشو او شرابو په بدل کي پلورلي دي، ای د صور او صيدون [ښارونو] ، ای د فلسطين ښارونو، څه کول غواړئ؟ غواړئ له ما غچ واخلئ؟ که تاسي داسي وکړئ نو زه به سملاسي تاسو مجازات کړم، زما سره او سپين زر او ټولي ګرانبېه خزانې تاسو وړي دي، هغه مو په خپلو بتتونونو کي ځای‌پرځای کړي دي، **د اورشليم او يهودا خلک مو پر يونانيانو پلورلي او هغوی مو له خپل هېواده شړلي دي خو زه به هغوی بيا خلی له هغو سيمو چي هلته پلورل شوي دي راوګرځوم** او ستاسو ټولي کړني به جبران کړم، زه به ستاسو زامن او لونه د يهودا پر خلکو وپلورم او دوی [يهودان] به هغوی پر سباييانو (چي په لرې سيمو کي استوګن دی) وپلوري، زه چي يهوه خدای يم دا وايم.» (د يوييل کتاب‌ګوتی:۳/۱تر۸پوري)

د اسراييلو نبي يوييل چي په يهودا کي اوسېدلی وايي چي «يهوه خدای له اورشليم څخه ناري وهي، آسمان او ځمکه لړځيږي خو يهوه خدای د خپل قوم اسراييلو کلا او ساتونکی دی. داسي وخت به راشي چي نور به هېڅ يو پردی سرتېری [د اورشليم له خاورې] تېر نه شي. له غرونو به تازه شراب وبهيږي، له لوړو ځوکو به شيدي رواني شي، د يهودا وچي ويالي به له اوبو ډکي شي او د يهوه خدای له کوره به چينه وخوټيږي، د شطيم دره به پنه (اوبه) کړي... **خو يهودا او اورشليم به تر ابده ټينګ پاتي شي، زه به د خپل قوم د وينو غچ اخلم او د هغو کسانو له تقصيره (چي پر دوی يي ظلم کړی دی) تېر نه شم، زه به په اورشليم کي له خپل قوم سره استوګن شم.»** (يوييل:۳/۱۶تر۲۱پوري)



(بابل ته د يهودانو تبعيد. د جيمز تيسوت انځور، ۱۸۹۶.)

نېټه:۱۴۰۳/۵/۱۷ل.ل

**نور بيا**

[د ښاغلي محمد انور اخړ نوري ليکني په دی لينک کي ولولئ.]



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکي په ځير و لولئ